# د مفتي شمایل ندوي او جاوید اختر مناظره

## آیا الله تعالیٰ موجود دی؟




Ketabton.com

ژباړن: مفتي سید عمر آغا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مفتي شمایل ندوي او جاوید اختر مناظره

## آیا الله تعالی موجود دی؟

ژباړن: مفتي سید عمر آغا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

## موضوعات ص

د رسالې سریزه........................................1

ډالی ......................................3

د مناظرې شروع........................................4

سریزه:........................................5

د کوربه خبرې: ........................................5

د دوو مېلمنو معرفت:........................................6

د مفتي شمايل ندوی پیژندنه:........................................6

د مناظرې د موضوع اړوند معلومات: ........................................7

د مفتي شمايل ندوي صاحب وینا:........................................8

- اول معیار- د الله تعالی د وجود لپاره

د ساینسي شواهدو استعمال: 8

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دوهم معیار- د وحي په ذریعه د الله تعالی د وجود ثبوت: 9
دوهم معیار وحی کېدای شي، خو دا هم دلته اړوند نه دی، ځکه چې که څه هم زما لپاره وحی د پوهې او ثبوت معتبره سرچینه ده، خو بنایي د جاوېد اختر صاحب لپاره د منلو وړ نه وي. ............9
-درېیم معیار- د مشاهدې په ذریعه د الله تعالی د وجود ثبوت: .. 10
- څلورم معیار- د عقل، منطق او استدلال په ذریعه د الله تعالی شتون ثابتول: ................ 10
د جاوید اختر وینا: ................................ 12
د ایمان او باور تعریف (د جاوید اختر په نیز): ............... 13
د طبیعت او انسانیت توپیر: .............................. 13
خدایان اکثره فاني وي – د جاوید اختر په نیز: ............. 14
مذهب د چېش غوښتنه کوي ؟ د ایمان او باور بله تشریح- جاوید اختر- : ........................................... 16
د کاینات جوړونکی څوک دی؟ - جاوید اختر- : ................ 18
انصاف انساني تصور دی: ................................ 18

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جاوید اختر اعتراضونو ته د مفتي صاحب ځوابونه: .......... 20
مذهب د پوښتنو څوک نه منع کوي: .................... 21
کاينات ازلي نه دی: ............ 22
د هر کتاب موضوع خاص وي: ................... 22
مذهب ساينس له تحقيق نه منع کوي:............... 23
د ویټیکان فتوی:................... 23
خپل د ناپوهي اعتراف وکړئ: ................... 23
هره دعوی د ثبوت اړتيا لري:.................. 24
الله تعالی و، خو دا دنيا نه وه موجود: ................ 24
د يوې فلسفي الهياتي اصطلاح ځواب: ................ 25
يوازي د تشو خدای: .................... 25
د جاوید اختر خبري:................... 27
د الله تعالی وجود ثابتول زما دنده نه ده – جاويد اختر-:........ 27
د فلسفي د اصطلاح تائيد:.................. 28
په نړۍ کې تر ټول زيات جرايم مذهبي خلګ کوي: .......... 28
د الله تعالی د وجود عقيده څه ګټه لري: .................. 29

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت د الله تعالی سره هیڅ تړاو نه لري (مفتي صاحب): ....... 31
مخلوق د وخت پابند دی: ......................... 31
د نړۍ د نقشې تمرین: ......................... 32
آیا د ملحدینو سره د انسان د نیک کېدلو کوم بل معیار شته؟ . 33
د جاوید اختر خبري:......................... 33
د میتافزیکي اصطلاح: ......................... 33
د غزې ظلمونه ولي الله تعالی نه دروي؟ .............. 34
د جاوید اختر خبرو ته د مفتي صاحب ځواب: .............. 36
د مفتي صاحب د جاوید اختر څخه پوښتنه: .............. 36
د جاوید اختر ځواب: ......................... 36
د غزې د ظلم د ادامې دلیل:......................... 39
د دواړو لورو آخري خبري......................... 43
د مفتي صاحب د ټول بیان آخري خبري؟ .............. 43
د جاوید اختر خبري:......................... 46
د دې بحث وروستی پړاو: د اورېدونکو پوښتنې .......... 49
اوله پوښتنه: ......................... 49

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماریا شاکي پوښتنه کوي: .............................. 49

ځواب: مفتي شمایل ندوی صاحب: ....................... 49

جاوید اختر: ............................ 50

دوهمه پوښتنه: ................................. 50

یو استاد پوښتنه کوي: .......................... 50

ځواب: مفتي صاحب: .............................. 50

دریمه پوښتنه: ................................. 50

د شر مسئله بیا راځي: .......................... 50

ځواب: مفتي صاحب: .............................. 51

څلورمه پوښتنه: ............................. 51

یو بل پوښتونکی: ............................... 51

ځواب (جاوید اختر): ............................ 51

پنځمه پوښتنه: ................................. 51

مذهبي خلگ اخترونه لري، ملحدان څه لري؟ ............... 51

ځواب (جاوید اختر): .............................. 51

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هو الله أحد

الله الصمد

لم يلد ولم يولد

ولم يكن له كفوا أحد

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


# د رسالې سریزه

## بسم الله الرحمن الرحيم

د لوی مهربان څښتن په مبارک نامه چې ټول صفتونه هغه لره دي او رحمتونه او سلامونه د هغه پر آخري استازي چې د هدایت او نور سرچشمه ده، رحمتونه او سلامونه د هغه پر ټولو یارانو او آل باندې چې د ټولو سینې د توحید د پاکې عقیدې څخه ډکې وې او رحمتونه او سلامونه د هغه پر ټولو پیروانو چې د الله تعالی د وجود او د یوالی عقیدې لرونکي دي. **اما بعد:**

دا چې د هندوستان پر ځمکه، ډهلي ښار کې د ۲۰۲۵ م کال د د سمبر د میا شتي پر ۲۰ نیټه، د شنبې په ورځ، د سهار د ۱۱:۰۰ بجو څخه د ماپښین تر ۱:۰۰ بجې پورې د ښاغلي سوربهـ دیویدی په کوربتوب د محترم مفتي شمایل ندوی صاحب او د اغلي جاوید اختر ترمنځ د **آیا الله تعالی موجود دی؟** تر عنوان لاندې مناظره وسول چې قدرمن مفتي شمایل ندوی صاحب یواځې په عقلي دلایلو د ملحدینو نماینده هک پک حیران کړ او د یادې مباحثې بریا یې د خپل علمي بصیرت او د ژبې په پوهې سره د ټول امت په استازیتوب د تل لپاره خپل په نامه کړل، الله تعالی دې ښاغلي مفتي صاحب ته ډیر عمر ورکړي او په علم و عمل کې دې الله تعالی نور هم برکت ور واچوي او ښاغلي جاوید اختر او د ده پلویانو ته دې الله تعالی خپل په فضل سره هدایت وکړي. آمین

د ډیری ملګرو ارزو وه چې یاده مباحثه په هندي ژبه ده چې پښتو ته وژباړل شي، د ټولو عوامو او خوا صو د ګټې وړ به شي، په همدې خاطر، یاده مباحثه د محترم مفتي ندوی صاحب د یوټیوب د رسمي پاڼې څخه وژباړل چې په راتلونکي پاڼو کې به یې تاسو ولولی - ان شاء الله-، د لوستلو ترمخه څو سپارښتنې د لوستونکو څخه لرم:

1. دا مباحثه یوه عادي مباحثه نه ده، داسې مناظرې ایمان تازه کوي او د الله تعالی د وجود او یووالي عقیده د ټولو مسلمانانو د عقیدې یو مهم جزء دی،
2. هر لوستونکی دې دا رساله د الله تعالی د رضا د حاصلولو په نیت ولولي،
3. په ژباړه کې بې ځای او غیر ضروري ځایونه قصدا حذف شوي دي،
4. ژباړه کې به خامخا څه کمبودتیا وي، خو لوستونکي دې د کار څه واخلي او نور دې په همدې ورقو کې پریږدي،
5. دا ژباړه یواځې د الله تعالی د رضا لپاره ترسره شوې ده، دی کې کوم سیاسي، تعصبي او مادي مفادات په نظر کې نه دي نیول شوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


6. هر څوک که دا رساله نشروي یا یې چاپوي یا یې بعضي کمبودتیاوي ور پوره کوي، هغوی ټولو ته عام او تام اجازه ده.

7. د لا آسانتیا لپاره هري موضوع ته عنوان لیکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالی

**دا رساله په ډېر احترام سره ډالی کوم:**

- هر هغه چا ته چې د الله تعالی د وجود او یووالی عقیده لري،
- هر هغه استاذ ته چې د الف، ب - ی څخه شروع بیا د علومو د لوړې کچې پورې د خپلو شاګردانو روزنه کوي،
- هر هغه مور او پلار ته چې خپل د اولاد ښه تربیه کوي،
- هر هغه مومن ته چې خپل د رب ټول حدود ساتي،
- خپلې آغلې مور او ښاغلي پلار ته،
- خپل ټولو استاذانو، شاګردانو او ملګرو ته.
- خپل ټولو خویندو او وروڼو ته،
- ټولو افغانانو ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د مناظرې شروع

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سریزه:

## د کوربه خبرې:

دوهمه خبره دا ده چې دا بحث د کوم یوه ځانګړي دين په اړه نه دی. دا بايد ټولو ته روښانه وي. دا بحث نه د کوم دين د ستر ښودلو لپاره دی او نه د کوم دين د کم ارزښته کولو لپاره.

نو که څوک له دې هیلې سره راغلی وي يا دا بحث ګوري، نو زه يې داډ درکوم چې مايوســه به شي. دا بحث د مذهبي نښــو د زيات اســتعمال په اړه هم نه دی. پرون ماښــام موږ د چای پر مهال سره وليدل.([1])

ډېرې ټوکې و شوې، خندا و شوه، او يو بل ته لاسونه واچول شول او ان عکس هم واخيستل شو. دا د دې ثبوت دی چې د انټرنېټ پر سر چې کوم شور جوړ دی، د هغه په پرتله دا دواړه کسان په ډېر ارام او مهذب ډول د بحث لپاره چمتو دي.

د ټويټر خبرې تر ټويټر پورې محـدودي دي، چې اوس يې ايلون ماسک "**ايکس**" بولي.

---

[1] - په سر رنګ دا خبري د کوربه دي چې د اسلامي عقيدې سره په ټکر کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د دوو مېلمنو معرفت:

او اوس د بحث د پیل نه مخکې، زه غواړم دا پوهان معرفي کړم، که څه هم هغوی پېژندنې ته اړتیا نه لري، خو بیا هم... موږ ته په ژورنالیزم کې دا ښوول کېږي چې "**هیڅکله اټکل مه کوه**"، ساینس هم همدا وایي.

## د مفتي شمایل ندوی پېژندنه:

مفتي شمایل ندوي صاحب، اسلامي عالم، ښوونکی، د کولکته د وهیان فاونډېشن بنسټګر دی، د لکهنو د نامتو دارالعلوم ندوة العلماء څخه فارغ شوی دی. په ټولنیزو رسنیو او عامه پلیټفارمونو کې په تدریس او فکري کارونو کې فعال دی.

دا مهال د مالیزیا په نړیوال اسلامي پوهنتون کې پی‌ایچ‌ډي کوي. ښه خبره دا ده چې د زده کړو ترڅنګ د سفر بلاګ/ویلاګ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوي. موږ د پیټروناس ټاورز مخې ته د دوی بلاګ/ویلاګ [2] هم لیدلی دی.

## د جاوید اختر پیژندنه:

زموږ سره جاوید اختر صاحب هم دی، جاوېد اختر صاحب شاعر دی، نثر هم لیکي، د فلمونو لپاره یې مکالمې او سندرې لیکلې دي.

له دې پرته، د ساینسي فکر او خپل الحاد (atheism) په اړه هم ډېر څرګند نظر لري او د عقلانیت خبرې کوي.

## د مناظرې د موضوع اړوند معلومات:

ښځو او ښاغلو، پوښتنه دا ده :**آیا خدای شته؟**

هر څوک هڅه کوي د دې پو ښتني ځواب په خپله طریقه پیدا کړي. ځینې یې د "God particle" کشف بولي، ځینې یې د "Higgs Boson"خبره کوي. ځینې دا پوښتنه کوي چې جرم (mass) څنګه

---

[2] . که څوک د خپلې ورځې، سفر، زده کړې یا فکرونو ویډیو جوړوي او یې په یو پلیټفارم لکه یوټیوب، انسټاګرام یا ټک ټاک خپروي، نو دا vlog / ویلاګ یا بلاګ بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


رامنځته شو، کاینات څنگه پیدا شول، د تخلیق نه مخکې او د وخت نه مخکې څه وو؟

او ځینې دا وایي چې دا ټولې خبرې چې د انسـان په دماغ کې رواني دي، دا دماغ څنگه د طبیعت په بهیر کې وده وکړه؟ زه هیله لرم چې نن به موږ د دې بنسټیزو پوښتنو ځینې ځوابونه ترلاسه کړو.

زه **(کوربه)** تر ټولو مخکې مفتي شمایل ندوي صاحب ته بلنه ورکوم.

## د مفتي شمایل ندوي صاحب وینا:

ټولې ستاینې د هغه خالق لپاره دي چې دا کاینات یې د یوې موخې لپاره پیدا کړی دی!

جاوید اختر صاحب او سوربه دیویدی صاحب، نننۍ مناظره کې موږ **د خدای د وجود په اړه** خبرې کوو.

## - اول معیار- د الله تعالی د وجود لپاره د سـاینسيـ شـواهدو استعمال:

(c) ketabton.com: The Digital Library


لومړۍ خبره دا ده چې ساینس په حقیقت کې نه د خدای شتون مستقیم ثابتولی شي او نه یې ردولی شي. دا خبره زه نه کوم، بلکې د ساینس متخصصین یې کوي ځکه چې ساینس د تجربوي شواهدو (empirical evidence)پورې محدود دی، او دا شواهد یوازې له فزیکي او طبیعي نړۍ سره تړاو لري، حال دا چې خدای غیر فزیکي او ماورایي حقیقت دی.

نو غیر فزیکي حقیقت د هغه آلې (tool) په وسیله نه شي ازمویل کېدای چې یوازې فزیکي حقیقت لټوي. له همدې امله، په دې مناظره کې به د خدای د شتون لپاره ساینسي شواهد د معیار په توګه نه منل کېږي.

**- دوهم معیار- د وحي په ذریعه د الله تعالی د وجود ثبوت:**

دوهم معیار وحی کېدای شي، خو دا هم دلته اړوند نه دی، ځکه چې که څه هم زما لپاره وحی د پوهې او ثبوت معتبره سرچینه ده، خو ښایي د جاوېد اختر صاحب لپاره د منلو وړ نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## -درېیم معیار- د مشاهدې په ذریعه د الله تعالی د وجود ثبوت:

درېیم معیار مشاهده ده، لکه دا غوښتنه چې "که خدای شته نو موږ ته یې وښیه" یا "د خدای لپاره تجربوي ثبوت راوړه". دا په حقیقت کې د غلط آلې کارول دي. دا داســې ده لکه څوک له ما وغواړي چې د فلزي کشــف کوونکي په وســیله پلاســتیک پیدا کړم، او بیا ووایي چې ځکه پلاستیک ونه موندل شو، نو پلاستیک هیڅ موجود نه دی.نو د خدای لپاره د تجربوي ثبوت غوښــتنه یو ماشــومانه غوښــتنه ده. او زه باور لرم چې جاوید اختر صــاحب له دې مرحلې ډېر مخکې تللي دی.

## - څلورم معیار- د عقل، منطق او اســتدلال په ذریعه د الله تعالی شتون ثابتول:

نو یوازې یو معیــار پــاتې کېږي، او هغــه دی **عقــل، منطق او اســتدلال** .د خدای شــتون به یا د همدې له لارې ثابتېږي او یا رد

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېږي. خو دا منطق با ید قطعي وي، لکه دوه جمع دوه چې څلور کېږي ۲+۲=۴، داسې روښانه چې منطقي رد يې ممکن نه وي.

که موږ یوې گیند/گولۍ (ball) ته وگورو، د ځانگړو صـــفاتو سره، نو طبيعي ده چې دې نتيجې ته رسېږو چې دا چا جوړه کړې ده. ځکه دا گولۍ لازمي نه وه چې وجود ولري؛ دا کېدای شوه وجود ونه لري، یا په بل شکل او بل رنگ کې وي.

همدا خبره که پر کايناتو تطبيق کړو، نو پوښتنه دا ده:

دا کاينات له کومه سو؟ ولې يې وجود پيدا کی؟ چا جوړ کړی دی؟

ملحدا نه لیدلوری یا خو وايي "موږ نه پوهېږو"، چې دا د ناپوهۍ دليل (argument from ignorance) دی، يا وايي "دا کاينات پخپله جوړ شول"، چې دا يو dogma (بېدليله عقيده) ده.

کاینات او د هغې ټولې برخې contingent دي، يعنې خپل وجود د بل چا پورې تړلی لري. نو بايد يوه داسې هستي وي چې **Necessary Being** وي، يعنې داســـې وجود چې نه شـــتون يې ناممکن وي. که هغه نه وای، هېڅ شی به وجود نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که څوک وپوښــتي چې "بیا هغه څوک چا پیدا کړ؟" نو دا د بې‌پایه علتونو تســلســل (infinite regress) ته ځي، چې یو منطقي تېروتنه ده.

نو پایله دا ده چې باید یوه ازلي، خپلواکه، ځواکمنه، پوهه او هوښیاره هســـتي وي چې دا کاینات یې د ځانګړو قوانینو او نظم سره رامنځته کړي دي.

## د جاوید اختر وینا:

زه غواړم مفتي صاحب ته یو ښه خبر ورکړم:

زما د ســاینس پوهه ډېره محدوده ده، نو اندېښــنه مه کوئ، خو عام عقل لرم.

د خدای تصــور نوی نه دی. انســان شــاوخوا لس یا دولس زره کاله کېږي چې شــته، او تل یې یو نه یو مذهب درلود. دا مذاهب د جاهلانو نه وو؛ دا د یونانیانو وو چې لوی فلاســفه یې درلودل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مصر ـیانو وو چې هرمونه يې جوړ کړل، د رومیانو وو چې د جمهوريت بنستونه يې کېښودل.

خو که تاریخ وګورو، خدایان تل بدلېدلي دي. هغه خدایان چې خلګو پرې کلک باور درلود، نن نور نشته. په اروپا کې نن کلیساوې تشې دي.

## د ایمان او باور تعریف (د جاوید اختر په نیز):

نو ایمان (**faith**) څه شی دی او باور (**belief**) څه شی دی؟ که زه وایم چې شمالي قطب شته، دا ایمان نه دی، دا باور دی، ځکه دلیل، شواهد او عقل شته.

ایمان دا دی چې بې له دلیل، بې له منطق، بې له ثبوت، یوه خبره ومنې. که زه داسې څه ومنم، دا حماقت دی.

## د طبیعت او انسانیت توپیر:

(c) ketabton.com: The Digital Library


طبیعت کې انصاف نشته. که زمرى هوسۍ وخوري، سزا نه ورکول کېږي. که توپان ونې له منځه یوسي، جیل ته نه ځي. انصــاف یو انساني تصور دى، نه طبیعي.

اخلاق، قانون، ښـي او بد، دا ټول انسـان جوړ کړي دي، لکه څنګه چې موږ د ټرافیـک قوانین جوړ کړي دي. کـه دا قوانین نـه واى، ګډوډي به وه.

نو هغه څوک چې وايي "یو څوک شــته چې انصــاف به کوي"، دا د انساني ذهن پیداوار دى، نه د طبیعت.

## خدایان اکثره فاني وي – د جاوید اختر په نیز:

زه غواړم مفتي صاحب ته یوه ښه خبره وکړم. وګورئ، د خداى تصور کوم نوى تصور نه دى. دا له پېړیو راهیسې موجود دى. ځینې دینونه به درې زره یا څلور زره کاله زاړه وي، خو انسـان د هومو سـېپینس په بڼه نږدې لس یا دولس زره کاله کېږي چې موجود دى، او تل یې یو نه یو مذهب درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا مذاهب د ناپوهانو نه وو. دا د یوناني ټولنې مذاهب وو، هلته لوی لوی فیلسوفان پیدا شوي دي. دا د مصریانو مذاهب وو، هغو خلکو هرمونه جوړ کړي دي. دا د رومیانو مذاهب وو، چې معمارۍ او سنا (Senate)یې لرله، یعنې د محدودې ولسواکۍ لومړنی بنسټ. نو د دوی لپاره چې کوم ژوپیټر، را یا زیوس و، پر هغه یې هماغه شان باور درلود لکه نن چې یو مذهبي انسان پر خپل خدای باور لري.

د عیسویت له راتګ مخکې، په اروپا کې جرمنیک مذهب موجود و. د هغه یو خدای و، ښځه یې لرله، دوه زامن او یوه لور یې لرله. کله چې عیسویت اروپا ته راغی، نو هغه خدای، د هغه ښځه او ټوله کورنۍ ورکه شوه.

نو که تاریخ ته وګورو، خدایان زیاتره فاني ثابت شوي دي، تل نه دي پاتې شوي. او دا چې چا یې عبادت کاوه، هغوی ناپوه نه وو، داسې نه ده چې هغوی په هیڅ نه پوهېدل. هغوی د خپل وخت وړ خلګ وو، لوی کارونه یې کړي وو، فیلسوفان وو، ساینسپوهان وو، خو د هغوی دینونه چېرته لاړل؟ د هغوی خدایان چېرته شول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


نن چې کوم خدایان خلګ مني، څوک پوهیږي چې څو سوه کاله وروسته به څه حال وي؟ موږ په اروپا کې ګورو چې کلیساوې تشې دي. وخت سره شیان بدلیږي.

**مذهب د چېش غوښتنه کوي ؟ د ایمان او باور بله تشریح- جاوید اختر- :**

تر کومه چې د مذهب خبره ده، هر مذهب له تا یوه خبره غواړي: ایمان .(Faith) نو ایمان څه شی دی؟ د ایمان او باور (Belief) ترمنځ توپیر څه دی؟ دا ډېره مهمه خبره ده.

که یو سړی ووایي: که خدای شته، نو ماته یې وښایئ – دا یوه ناپوهانه خبره ده، او مذهب خلګ له پوښتنو منع کوي،

ما شمالي قطب نه دی لیدلی، خو زه باور لرم چې شته. ولې؟ ځکه چې دلیل شته، شواهد شته، منطق شته، ځیني خلګ هلته تللي هم دي. دا ایمان نه دی، دا باور دی.

نو د ایمان او باور توپیر څه دی؟ مذهب له تا ایمان غواړي. ایمان دا معنا لري چې نه شاهد وي، نه ثبوت وي، نه منطق وي، نه دلیل

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي، خو بیا هم ته یو شی ومنې. که شواهد وای، نو هغه به باور بلل کېده، ایمان نه.

لکه زما باور چې شمالي قطب شته – دا ایمان نه دی. ایمان دا ټول شرطونه ردوي. نو که زه یو داسې شی ومنم چې نه منطق لري، نه دلیل، نه ثبوت، نه شاهد – دا حماقت دی.

که سبا زه دا یقین وکړم چې ایلان مسک زما ورور دی، نو زه به ډېر خوشحاله شم، سکون به هم ترلاسه کړم. خو که څوک وپوښتي: ولې دا منې؟ څه ثبوت شته؟ هغه امریکایی دی، ته هندی یې، نسل دې جلا دی، هېڅکله دې نه دی لیدلی – نو زه به ووایم: دا زما ایمان دی. خو د ایمان معنا دا ده چې دا ثبوت نه لري.

که ثبوت وي، نو بیا ایمان ته اړتیا نشته، بیا بحث کېږي. په پای کې، د نړۍ هر مذهب پر ایمان ولاړ دی. او ایمان داسې یقین ته ویل کېږي چې نه ثبوت لري، نه شاهد، نه منطق.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کاینات جوړونکی څوک دی؟ - جاوید اختر- :

اوس تاسـو پوښـتنه کوئ چې دا کاینات چا جوړ کړي؟ عجیبه دا ده چې تاسو وویل: یو ټاپو ته لاړئ او هلته مو یوه توپ ولیده، نو حیران شـوئ، خو دا مو ونه پوښـتل چې ټاپو چا جوړ کړی. حال دا چې ټاپوګان شته. همدا سې دا ستوري دي، دا کهکشانونه دي، دا ټول لکه ټاپوګان دي. موږ ترې ګټه اخلو، خو نه پو ښتو چې چا جوړ کړي دي.

تاسـو دا هم ونه پوښـتل چې زما پيدايښـت څنګه وشـو؟ ايا زه د يوې ونې په شـان پيدا شـوم؟ که يو تصـادفي حجره وم چې له بلې سره ونښته؟ زما پيدايښت تصادفي دی.

## انصاف انساني تصور دی:

او انصـاف چې تاسـو يې يادوئ، انصـاف له طبيعت سره هيڅ تړاو نه لري. تاسـو واياسـت چې يوه ورځ به انصـاف وشي، خو انصـاف يو انسـاني تصـور دی. په طبيعت کې انصـاف نشـته. که زمری هوسـۍ وخوري، سـزا نه ورکول کيږي. که توپان راشي او شـنې ونې له بيخه وباسي، توپان زندان ته نه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو ځکه طبیعت انصاف ته اړتیا نه لري. طبیعت همدا سې روان دی. که زه ووایم چې ما خواړه وخوړل او معدې مې کار بند کړ، نو معده سزا نه ویني. دا یو سیستم دی.

نو طبیعت بې‌انصافه دی. انصاف یو انساني تصور دی. څوک چې وایي: «زه به تاته انصاف درکړم»، دا د انساني ذهن پیداوار دی، نه طبیعي دی او نه آسماني.

په طبیعت کې د انصاف نښه نشته.

خو بیا هم موږ قوانین جوړوو،

د مثال په توګه؛ د ټرافیکو قانون: **په چپ یا راست لوري موټر چلول؛**

دا ټول د نظم لپاره دي. که دا نه وي، ګډوډي، حادثې، وژنې او ټرافیکي بندښت به وي.

دا قوانین موږ جوړ کړي دي، طبیعت نه دي جوړ کړي.

د نړۍ دینونه چې د مرګ وروسته د انصاف ژمنه کوي، دا ښیي چې دا د انسان جوړ تصور دی. که ماته انصاف راکړل شي، زه –جاوید

(c) ketabton.com: The Digital Library


اختر- به ډېر خوشحاله شم، خو زه يې باور نه شم کولی، ځکه چې زه ايمان نه شم پيدا کولی.

که مذهب په اعتدال کې وي، ښايي زيان ونه لري، ښايي ځينې ښې ځانگړتياوې پيدا کړي. لکه الکول، چې ډېر و خت په درملو کې کارېږي. خو ستونزه دا ده چې دا شيان زياتېږي.

د مذهب هم همدا خاصيت دی: وده کوي، لکه سرطان، لکه شراب. ځينې خلگ يې سم استعمالوي، زه باور لرم چې مفتي صاحب هم له همدغو کســـانو څخه دی. خو ډېری خلگ يې افراطي کوي، او نن مورږ په نړۍ کې جگړې وينو – پکې د مذهبي خلگو لاس هم شته.

مذهب ښايي دا نه وايي، خو خلک يې په نوم داسې کارونه کوي.

*- د جاويد اختر خبري دلته ختمي شوی-*

## د جاويد اختر اعتراضونو ته د مفتي صاحب ځوابونه:

## د نني بحث اصل موضوع: ايمان نه دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library


محترم جاوید اختر صـاحب څو ځله دا خبره تکرار کړه چې د ایمان (Faith)معنا څه ده؟ د ایمان معنا څه ده؟ ما خو دا واضـــحه کړه: ایمان ســـم هم کېدای شي او غلط هم کېدای شي. او نن موږ د ایمان پر سر بحث نه کوو، بلکې پر حقیقت (Truth) او پر دې خبرې کوو چې **ایا خدای شته که نه؟**

ایا خدای شـــته که نه – دا یو حقیقت دی. اوس که تاســـو دې ته ایمان ووایئ یا باور(Belief) ، دا زما کار نه دی.

## مذهب د پوښتنو څوک نه منع کوي:

له دې وروسته تاسو وویل چې مذهب پوښتنې منع کوي. زه وایم: که څوک یې منع کوي، هغه به یې منع کوي، خو زه یې نه منع کوم. بلکې پوښـــتنه کول پکار دي. د پوښـــتنو له لارې موږ مخ ته ځو، پرمختګ کوو، او همدا وجه ده چې زه نن دلته راغلی یم.

خو پوښـــتنې یوازې له خدایه نه کېږي، له تاســـو څخه هم کېږي. له الحاد (Atheism) څخه هم پوښـــتنې کېږي. پوښـــتنې باید له هر چا وشي، یوازې له مذهب څخه نه. او نن زه پوښـــتنې کوم، او هیله لرم چې تاسو به یې ځواب ووایئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## کاينات ازلي نه دی:

تر اوسه تاسو د **امکان/وابستګۍ دليل (Contingency Argument)** ته هیڅ ځواب نه دی ورکړی. راځئ، تاسو وويل چې ولې د کايناتو په اړه دا نه وايو چې دا ازلي (Eternal) دی؟ ځکه چې په منطقي ډول دا ممکنه نه ده چې کاينات ازلي وي. کاينات يوه وابسته (contingent)هستي ده، چې د وخت او فضا پابنده ده. هر څه چې د وخت او فضا پابند وي، هغه وابسته وي. او چې وابسته وي، نو پيل به يې درلودلی وي. او چې پيل ولري، هغه ازلي کېدای نه شي. دا خو يوه ساده خبره ده.

## د هر کتاب موضوع خاص وي:

تاسو وويل چې په مذهبي کتابونو کې د ډايناسور ذکر نشته. افسوس دا دی چې ما تر اوسه د رياضياتو په کوم کتاب کې هم د ډايناسور ذکر نه دی ليدلی، نو ايا دا معنا لري چې د رياضياتو کتاب بې ګټې دی؟ نه. ځکه هغه د دې موضوع لپاره نه دی. د وحی او مذهبي کتابونو موضوع دا نه ده چې تاسو ته دا وښيي چې بايسکل څنګه جوړېږي، يا دا چې ډايناسور کله وو. د هغوی موخه دا ده چې اخلاق

(c) ketabton.com: The Digital Library


در وښـــيي، د خدای په اړه درته معلومات درکړي، او د غير فزيکي حقيقت (non-physical reality) په اړه پوهه درکړي.

## مذهب ساينس له تحقيق نه منع کوي:

مذهب ساينس نه دروي. که يې دروي، نو غلط کار کوي. خو مذهب **ساينټيزم (Scientism)** دروي، او دلته زموږ محترم صاحب مغشوش شوی دی. ساينس او ساينټيزم فرق لري.

ســـاينټيزم دا ادعا کوي چې ســـاينس او ســـاينسيـ طريقه د پوهې يوازينۍ سرچينه ده.

موږ دا خبره ردوو. موږ د ساينس رد نه کوو، بلکې ملاتړ يې کوو، که زموږ ټوله تاريخ وګورئ، نو دا خبره به درته روښـانه شي. خو دا يو بل موضوع ده.

## د ويټيکان فتوی:

بيا يې وويل چې ويټيکان فتوا ورکړې ده. موږ ته د ويټيکان له فتوو سره هيڅ تړاو نشته، دا خبرې له يو بل سره متناقضې دي.

## خپل د ناپوهي اعتراف وکړئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې وویل: "موږ نه پوهېږو." که نه پوهېږئ، نو په ښــکاره ووایئ چې نه پوهېږو. په دې کې څه حرج شــته؟ همدا خو زه وایم: ووایئ چې نه پوهېږو. خو بیا ولې دا دعوه کوئ چې خدای وجود نه لري؟

## هره دعوی د ثبوت اړتیا لري:

دا خبره ســـمه نه ده چې یوازې مثبت دعوې د ثبوت بار لري. منفي دعوه هم د ثبوت اړتیا لري. د بېلګې په توګه، که زه ووایم: "په دې کوټه کې هېڅ څوک نشته"، دا هم د پوهې دعوه ده، او د ثبوت اړتیا لري. که زه ووایم "کېدای شي څوک وي، کېدای شي نه وي"، دا دعوه نه ده. خو که زه ووایم "هلته څوک نشـــته" یا "هلته څوک شـــته"، دا دواړه دعوې دي او دواړه د ثبوت غوښـــتنه کوي. زموږ پر غاړه هم د ثبوت بار دی، او موږ یې وړاندې کوو.

## الله تعالی و، خو دا دنیا نه وه موجود:

وروستۍ خبره دا وه چې خدای د نړۍ له پیدا کېدو مخکې، سل کاله یا میلیاردونه کاله مخکې څه کول؟ محترمه، راځئ زه یې ځواب درکړم. که تاسـو محترم شـخصـیت نه وای، نو ما به دا پوښـتني ته

......

(c) ketabton.com: The Digital Library


"مخکې" او "وروسته" دا هغه الفاظ دي چې له وخت سره تړاو لري. وخت د کايناتو له پيل سره پيل شوی دی. نو دا پو ښتنه چې د وخت له پيدا کېدو مخکې خدای څه کول، خپله پوښتنه غير منطقي ده. دا فلسفه ده. تاسو پوښتنه کوئ چې د کايناتو له پيدا کېدو مخکې خدای څه کول، حال دا چې وخت لا موجود نه و. نو دا پوښتنه د خدای په اړه له بنسټه ناسمه ده.

## د يوې فلسفي الهياتي اصطلاح ځواب: يوازي د تشو خدای:

بله خبره د **God of the Gaps** ده. زه يو مثال درکوم: يو موټر دی، يو کس ورته ګوري او وايي: څرخونه يې په سم ځای کې دي، سټيرينګ سم ځای کې دی، څوکۍ يې ښه ډيزاين شوې دي، دا موټر په ډېر دقيق ډول کار کوي. نو حتماً دا چا جوړ کړی دی.

اوس که جاويد اختر صاحب راشي او ووايې چې تاسو د موټر انجن وګورئ، هغه انجن دا موټر چلوي نو همدا يې دليل دی چې موټر هيچا هم نه دی جوړ کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


تاســـو د موټر د انجن په ذریعه دا ثابته کړل چې دا موټر چلوي البته آیا له دی څخه دا ممکنه ده چې هیڅا دي هم دا موټر نه وي جوړ کړی؟ نه، داشي هیڅکه نشي کیدلای.

که موږ د موټر د جوړېدو ســـیســـتم نور هم وپېژنو، نو ایا دا به دا پوښـــتنه ختمه کړي چې دا موټر چا جوړ کړی؟ نه. بلکې زموږ یقین نور هم قوي کېږي، ځکه موږ اوس پوهېږو چې دا ســـیســـتم څومره پېچلی دی. مخکې لږ پوهېدو، اوس لا ډېر پوه شوو، او زموږ ډاډ نور هم زیات شو چې دا حتماً یو جوړوونکی لري.

همدا حال د کایناتو دی. ساینس به تل یوازې د فزیکي نړۍ تشـې ډکوي، ځکه چې تجربوي شـــواهد یوازې له فزیکي نړۍ سره تړاو لري. تـاســـو د ســـاینس لـه لارې هېڅکلـه مـاورایي حقیقـت (metaphysical reality)نه شئ ثابتولی.

موږ موضـوع لا پسـې پراخه کړه. اوس موږ ښـه پوهېږو چې دا موټر څومره ډېر پېچلی ســـیســـتم لري. مخکې مو لږ پوهېدله، خو اوس پېچلتیا لا پسې ډېره ښکاره شوه. اوس موږ ته ښکاره شوه چې زموږ باور لا پســې قوي شــوی چې دا موټر خامخا یو چا جوړ کړی دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدې په څېر، د کائنات مسئله ده. ساینس تل به یوازې فزیکي نړۍ مطالعه کوي او یوازې د فزیکي شیانو له لارې به یې څېړي. ځکه چې امپیریکي شواهد یوازې د فزیکي نړۍ پورې تړاو لري. تاسو د ساینس له لارې هېڅکله میتافیزیکي حقیقت نه شئ ثابتولی. دا د غلط وسیلې استعمال دی.

دا هغه شان کار دی لکه چې تاسو د فلزي کشف لپاره ډیټکټر کاروئ، بیا د پلاستیک کشف لپاره هڅه کوئ، چې ښکاره ده غلط دی. مننه. – مفتي صاحب خپل خبرې ختمې کړلې-

## د جاوید اختر خبرې:

## د الله تعالی وجود ثابتول زما دنده نه ده – جاوید اختر-:

لومړی زه له تاسو غواړم چې تاسو وویل کله چې کائنات نه و، نو وخت هم نه و. هېڅ هم نه و. څنګه نه و؟ تاسو وایاست چې خدای د تل و او تل به وي، دغه د **تل** کلمه د وخت سره تړاو لري، که وخت نه وي، نو تل څنګه معنا پیدا کوي. ښه، پاتې خبره دا ده چې تاسو وویل، صاحب، تاسو ثابت کړئ. تاسو هم منطق لرئ یا زه

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم منطق لرم. دا زما دنده نه ده چې ثابت کړم خدای شـــته. برټن رسیل یوه ښه خبره کړې ده.

برټن رســیل وویل که زه تاســو ته ووایم چې یوه د چای کټلي زما شـاوخوا او ستاسـو شـاوخوا ګرځي، نو سـتاسـو دنده نه ده چې ثابت کړئ چې هیڅ چای کټلي نه شـــته. دا زما دعوه ده. دا دعوه مذهبي خلګ کوي چې خدای شته. زه ولې ثابت کړم چې نشته؟ تر څو چې تاسو ما قانع نه کړئ، زه نه منم. ستاسو دنده ده، زما نه.

## د فلسفي د اصطلاح تائید:

دوهم، هغه تشـــې چې تاســو یادې کړې، دا تشـــې کله کله مذهبي عقیدې ته چلینج ورکوي، نو کله دا سې مسئله راپورته کېږي نو غوغا کېږي. کله چې څوک خپلې عقیدې ته چلینج ورکوي، مذهبي ټولنه په بېلابېلو وختونو او ځایونو کې هڅه کړې چې دا چلینجونه ودروي. دا کتاب دی "Religion and Science but Nursery" ولولئ، ستاسو به خوښ شي، د ساینس اړیکه تل د مذهبي عقیدو سره همدا ده.

## په نړۍ کې تر ټول زیات جرایم مذهبي خلګ کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښه، اوس فکر وکړئ، مذهبي عقیده انسان ته ښه کوي، د "خدای په عقیده" انسان ښه کېږي. نو یوه خبره وکړئ: د نړۍ نقشه واخلئ او معلومه کړئ چې کوم ځای کې مذهبي عقیدې ډېرې دي. که هغه لاتین امریکا وي، منځنی ختیځ وي یا هندوســتان کې، هغه سیمې چې مذهبي دي. نقشــه جلا وســاتئ. اوس بله نقشــه دا چې کوم ځای کې بې انصـــافي، ظلم، د ښـــځو حقونو سرغړونه، جبر، دیکتاتورۍ شتون لري. هغه مخکني او دا نقشه به یو شان وي.

## د الله تعالی د وجود عقیده څه ګټه لري:

نو تا سو ماته ووایا ست چې د خدای عقیده څومره کارېدلې؟ حتی که تا سو یوه وړه درملنه په سړک کې وپلورئ، د هغې هم کارول تشریح کړل شــوی وي، د دې کارولو څخه هېڅ ګټه نه ده ترلاســه شــوې. ټول هغه خراب هېوادونه او ټولنې چې ظلم کوي، د خدای په نوم هغوی غلط کارونه کوي، زه ورسره څه تعلق لرم؟ د اســـتعمال له مخې، لکه د شرابو بوتل چې کله کله لیدل شـــوې، سره رنګ لري، ښـــکلی ښــکاري، خو آیا د چا ژوند ته زیان رســـوي؟ نه. خو د دې استعمال غلط دی، نو تاسو یې نه خوښوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې تصــور اســتعمال تــل غلط و. تــاريخ وګورئ، نن وګورئ، هندوســتان وګورئ، نړۍ وګورئ. خلګ څنګه کاروي؟ مذهبي خلګ عادلانه دي؟ حق ورکوي؟ ښــه انســانان جوړوي؟ که دا درملنه ډېره ګټوره وي، زه به يې وکاروم. خو زه ګټه نه وينم. که څوک مذهبي وي او ښــه انســان وي، زه ورته ډېر درناوی لرم، ځکه زما په فکر، مذهبي انسان ښه کېدل له ما څخه غوره کېدل سخت دي.

هر څه يوه اندازه لري. تا سو دومره منډه کولی شئ، دومره نه. دومره وزن پورته کولی شــئ، دومره نه. دومره لرې ليدلی شــئ، دومره نه. همداســې، عقل عام وايي چې ســتاســو د نيکۍ يوه اندازه شــته. که تا سو سهار عبادت کوئ، نو بهر وتل، احساس کوئ چې ښه کار مو کړی، خو ستاسو د نيکۍ يوه اندازه مصرف شوه، چې د چا لپاره ګټه نه لري، زه دا نه کوم، د دې پر ځای نو بايد چا ته خوراک ورکړم، کومې کونډې سره مرســته وکړم. مذهبي خلګ خپله نيکي بې ځايه مصرفوي.

**(د جاويد اختر خبري دلته ختمي شوی)**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## وخت د الله تعالی سره هیڅ تړاو نه لري (مفتي صاحب):

اصـلي سـتونزه دا ده چې جاوید صـاحب د خدای مفهوم روښـانه نه لري. هغوی وویل کائنات نه و، نو خدای و، نو وخت به و. موږ خدای د ضروري موجود په توګه منو، چې باید بې وخت وي. ځکه هغه د وخت خالق دی. کله چې وخت یې جوړ کړ، نو څنګه به خپله په وخت پورې اړه لري؟ کله چې ځای یې جوړ کړ، نو څنګه به خپله په ځای کې وي؟ که هغه د وخت او ځای پابند و، نو بیا څه یې جوړ کړل؟ نو دا پوښتنه غلطه ده چې خدای و، نو وخت به و.

## مخلوق د وخت پابند دی:

موږ د وخت پابندان یو، خدای نه. موږ د فزیکي نړۍ پورې تړاو لرو، هغه میتافیزیکي حقیقت دی. بله خبره، تاسـو مثال ورکړ چې د چای کتلي هوا کې ګرځي، ښایي برټن رسیل ته اشاره وي. اصلي ستونزه دا ده چې موږ د تصـور او منطقي اړتیا توپیر نه شـو کولی. هغه مثال یوازې تصـــور دی، او زه د منطقي ضرورت خبره کوم. تاســـو هر څه تصـور کولی شـئ، لکه په جوپیټر کې ګلابي پیلفانټ، یونیکورن، خو دا د کائنات پر حقیقت تاثیر نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه د لومړني علت خبره کوم، هغه ضروري موجود چې پرته له هغه کائنات شتون نه لري. بله خبره، مذهبي عقیدې ته ساینس چلینج ورکوي، خو دا زموږ موضوع نه ده، که پرې بحث وکړو وخت ضایع کیږي. ساینس مذهبي عقیدې تعقیب نه کوي، ساینتیزم ملامتوي، ما دلیل وړاندې کړ.

## د نړۍ د نقشې تمرین:

تاسو وویل د نړۍ نقشه را واخلئ. ما دا تمرین کړی دی، د منځني ختیځ او اروپا نقشه مي را واخیستل، مذهبي سیمه او لبرل او اتېیسټ سیمي مي ټولي سره جلا کړلی، زه دې نتیجې ته ورسېدم چې پر ښځو ډېر جنسي تېری په اروپا کې کیږي چې د ملحدینو منطقه ده، نه په منځني ختیځ کې ځکه منځني ختیځ کې مذهبي خلګ دي، زما د خبري تائید د یو این راپور کوي چې په اروپا کې چې کومي ښځي کار کوي په هغوی کې ۸۱٪ فیصده ښځي سره د جنسي تیري د بد عمل ښکار شوی دي! دا منځني آسیا کې نه کیږي ځکه هغوی مذهبي خلګ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## آیا د ملحدینو سره د انسان د نیک کېدلو کوم بل معیار شته؟

تاسـو وویل چې مذهبي انسـان ښـه کېدل زموږ د ښـه کېدو په پرتله سخت دي. نو دا معنا لري چې پرته له خدایه، تاسو د ښه او بد لپاره کوم معیار لرئ. زه غواړم چې په خبرو اترو او مباحثو کې همداســـې بحث وکړو.

ډېره مننه!

**( د مفتي صاحب خبرې دلته ختمې شوې)**

## د جاوید اختر خبرې:

## د میتافزیکي اصطلاح:

لومړی دا خبره، دا مثـال غلط نـه دی. غلط دی. دوی مخکې لـه مخکې موږ رد کړي یو. وویل یې چې دا مسئله د عقل په مرسته حل کېدای نشيـــ. تاســـو د منطق له لارې نه شـــئ رســـیدلی. دا یوه میتافزیکي خبره ده. میتافزیکي یوه عجیبه کلمه ده. سـم په سـم نه پوهیږي څوک څه معنی ورکوي. داســـې ښـــکاري لکه یوه لویه خبره ده. آخه وروره، میتافزیکي څه شی دی؟ دا یوه کلمه ده چې هر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library


کارول کېږي. کله چې تاسـو یوه خبره کوئ او له ما سره بحث کوئ، نو ماته وایاســـت میتافزیکي. تاســـو باید په منطقي ډول ماته ثابته کړئ، که په منطقي ډول نه وایې، صیب دا میتافزیکي ده، نو بیا موږ په څه خبرې کوو؟ زما او ستاسو خبرې په کومه ژبه کې وي؟

او دا ویل چې مخکې وخت نه و، نو بیا ولې وایی دا تل و او تل به وي؟ تل وخت لري. که وخت نه وي، تل څنګه پاتې شي؟ اوس زه ګورم،

## د غزې ظلمونه ولي الله تعالی نه دروي؟

تا سو ویلي چې هلته د تېرې قضیې ډېرې پېښېږي. نو موږ یوه خبره ګورو، نړۍ کې چې هغه (الله تعالی) مطلق قدرت لري، چې پرته له هغه یو پاڼه هم نه خوځېږي، ټول ځواک لري. دا نړۍ څنګه روانه ده؟ او د دې نړۍ حالت څه دی؟ ۴۵،۰۰۰ ماشومان چې له ۱۰ کلونو کم عمر لرل په غزه کې مړه شوي دي.

له لوږې مړه شـوي، په کاله هاندي کې ماشـومان مړه شـوي، او د ډیفتیریا له وجې مړه شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډيفتيريا عجيبه ناروغي ده، د ستوني جالې ته مرگ رسيږي، ما شوم نيلي کيږي. د غريب ماشوم ځکه چې شاته کس نه لري. دا مطلق ځواک دی چې هر څه کوي، تاسو دعا کوئ چې زموږ لپاره څه وکړي.

زمونږ دا کار وکړي، هغه کار وکړي. نو دا مانا ده چې په ورځني ژوند کې هغه مداخله کوي، که هغه واقعاً وي، د بحث لپاره، نو کله چې زه نړۍ گورم، زما په زړه کې د هغه لپاره هيڅ درناوی نه پيدا کيږي، څه کوې ته ټول ځواکمن يې، ټول ځای کې يې، تا وليدل چې ماشوم څنگه ټپي شو، او ته غواړې چې زه ستا عبادت وکړم، او ته هم يې. آخه وروره، دا ښه ده چې زموږ چيف وزيران دي، لږ فکر کوي. څه خبره ده؟ تاسو د چا عبادت کوئ؟ که هغه هم وي، دا نړۍ له بې عدالتيو، ظلم، زور، تشدد ډکه ده. او مه واياست چې هغه گوري، او يوه ورځ به ووايي. که هغه گوري او مداخله نه کوي، نو تاسو ولې دعا کوئ؟ تاسو واياست زما دا کار وکړئ. دا مانا لري چې هغه مداخله کولی شي، تاسو ته دنده درکوي، بله انسان ته نه، خو ستاسو کار ترسره کوي ځکه چې تاسو دعا کړې ده. نو کله چې هغه تاسو ته دنده درکولی شي، د لور واده کولی شي، د زوی لپاره گرين

(c) ketabton.com: The Digital Library


کارت درته اخيستلی شي، نو لږ تر لږه هغه ما شومان چې مړه  شول، هغه بايد منع کړي، يو څه بايد وکړي.

زه غواړم په نړۍ کې د دې نړۍ هيڅ مالک نه وي. که وي، نو لوی شرم دی. مننه.

**(د جاويد اختر خبري ختمي شوی)**

## د جاويد اختر خبرو ته د مفتي صاحب ځواب:

## د مفتي صاحب د جاويد اختر څخه پوښتنه:

نو لومړۍ پو ښتنه له تا سو: تا سو د کانټينجنسي ارګومينټ په اړه څه فکر کوئ؟ تاسو د علتونو لامحدود سلسله منئ، که د اړين موجود شتون منئ؟ ځکه يوازې دوه اختيارونه شته.

## د جاويد اختر پوښتنه:

زه صادقانه وايم، زه کانټينجنسي کلمه باندی سم نه پوهيږم، او هغه انګليسيـ کلمات لږ څه ما ته پيچلي ښکاري. تاسو ساده ژبه کې پوښتنه کولی شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**مفتي صاحب:** بالکل، زه کولی شم. د کائنات هر څه کانتینجنټ دی، دا مانا لري چې د خپل شتون لپاره په بل څه پورې تړلي دي. کوم څه چې تړلي وي، مستقل نه شي کېدای. نو يوه وجه ولري. اوس تاسو څه پوهېږئ، لامحدود سلسله نه شته. تاسو بايد په يو اړين موجود ودرېږئ.

**جاويد اختر:** نه، اړتيا نشته. چا وويل چې تا سو بايد ودرېږئ؟ تا سو په خدای ودرېږئ. تا سو نه ودرېږئ. تا سو وايا ست، تل و، کله چې وخت نه و. تاسو چېرته ودرېږئ؟

موږ ولې نه شو منلی چې کائنات، حتی څو کائناتونه، تل شتون لري؟ موږ يوه نمونه لرو، بليک هول. ټول شيان جذبوي، بيا انفجار کېږي، بيا خپرېږي. انسان يوازې د څو کلونو لپاره محدود دی، کائنات کروړه کلونه عمر لري. نو په دې فکر کول چې علتونه ولې شته، دا څه ضرورت لري؟ دا ټول اصطلاحات د انسان لپاره ندي جوړ شوي.

هغه وويل چې نړۍ د انسان لپاره جوړه شوې. دا سمه ده؟ بالکل،
**مفتي صاحب:** خو دا مانا نه لري چې د کوم شي د علت علم ستا سره نه وي، نه هغه به علت هم نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**جاوید اختر:** زه نه پوهېږم، نه زما مسوولیت دی چې پوه شم، بلکې خدای پوهېږي. بتین وویل، تاسو یوه ادعا کوئ، زه ولې وایم غلطه ده؟ ثابته کړئ.

**کوربه:** آیا تاسو غواړئ د کانټینجنسي ارګومینټ جواب ورکړئ؟ تاسو مفتی صاحب ته پوښتنه کوئ؟ ځکه دا د کراس ازمېښې دوره ده. تاسو مخکې د مذهبي انقلابونو خبره وکړه.

**جاوید اختر:** زه دا پوښتنه کول غواړم چې خدای په مختلفو مذاهبو کې څه انقلابونه کړي دي، مختلف اصول لري، او ځینې تضادونه شته.

ځینې وخت زه فکر کوم که د فوټبال فاینل کې میلیونونه خلګ وي او تلویزیون کې یې په میلیونونو خلګ ګوري، که په همدې وخت کې خدای ووایي "زه خدای یم"، ټول خلګ به واوري او مسله حل شي. دا څنګه د کائنات جوړېدو مسله حل کوي؟ نه، موږ باید پوه شو چې خدای د کائنات څخه ډېر پوه دی. تل موجود دی، ټول ځواک لري.

او "قادر مطلق" هر څه کولی شي، دنده درکوي، د واده مرسته کوي، د ګاونډي قضیه حلوي، تاسو بریالي کوي. دا نړۍ څنګه پرمخ ځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


حیرانتیا نه لرئ؟ یا د قیامت وروسته انصاف به وي؟ کله چې ما شوم مړ شوی وي، انصاف به څنګه کیږي؟

**مفتي صــــاحب:** زه ځواب ورکوم. هو، ســتاســو د انقلابونو او ســکریپچرونو خبره د وخت لپاره پرېږدم. نن وخت کم دی. زه چمتو یم چې وروســته بحث وکړم. دا چې نن د خدای شــتون په اړه خبرې کوو، نو ستاسو پوښتنې به هم ځواب شي.

تاســو وویل چې تاســو نه دی ثابته کړی. د کانټینجنسيـ ارګومینټ بنسټيز ارګومینټ دی.

**جاوید اختر:** دا کانټینجنسي څه معنی لري، تاسو یې تعریف کړئ؟

**مفتي صـاحب:** کانټینجنسيـ مانا لري چې هر موجود چې په بل څه پورې تړلی وي، علت لري. دا عقل وایي.

**مفتي صاحب:** دویمه خبره، تا سو وویل میلیاردونه لایټ کلونه لرې، دا زما سره څه تړاو لري؟ یوازې محدود فکر مه کوئ، بهر یې هم وګورئ.

## د غزې د ظلم د ادامې دلیل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


دریېمه پوښتنه، تاسو د شر مسئله ذکر کړه. د شر مسئله دوه مفروضې لري. لومړۍ دا چې خدای مهربان او قادر مطلق دی، مگر دنیا کې ظلم شته. خو خدای ټول پوه، حکیم دی. ستاسو محدود فهم د دې دلیلونو سره پرتله کېدای نشي. موږ په ورځني ژوند کې دا منو، لکه څنگه چې د ډاکټر نسخې منو .

ښه، تاسو اورېدلي، دوه غلط مفروضې وې: لومړی، خدای یوازې قادر مطلق او مهربان دی. دویم، د دنیا کې د شر شتون بې دلیل دی. حقیقت دا دی چې ټول انسانان دنیا ته د امتحان لپاره راغلي دي، او د هر انسان امتحان په جلا جلا طریقه اخستل کیږي، که چیري شر دنیا کې موجود وي، د شر شتون د انسان د ازمېښت لپاره دی، د انسان د شرافت او پرمختگ لپاره. که شر نه وي، ازمېښت څه مانا لري؟

له دې امله، شر هم د خدای جوړ شوی دی، خو ا صلي شر هغه دی چې انسان د خپل آزاد ارادې سره کوي. د مثال په توگه، د تیري قضیه د انسان آزادي ارادې پایله ده، نه د خدای. خدای د آزادې ارادې نظام جوړ کړی دی. څوک چې غلط کار کوي، سزا ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او تاسو وایاست، خدای ژوند او مرګ ورکوي، دا غلط نه دی. خدای د آزادې ارادې نظام جوړ کړی، چې له لارې یې مرګ او ژوند ممکن دی. تاسو وایاست، خدای یوازې مسؤل دی، نه، انسان مسؤل دی.

او بیا تاسو وایاست، څنګه د شر تعریف کولی شو پرته له خدای؟ ځواب: د ټولنې قوانین، د انساني تعامل اصول، د ټولو لپاره حقوق او آرامتیا. همدا لاره ده. که نه، تباهي راځي. که تاسو یوازې د خلګو لخوا پرېکړه وکړئ، بیا د ناسمو عملونو کنترول نشي کېدای.

**جاوید اختر:** د دنیا اکثریت د شر په طرف ده، داسي معلومیږي لکه خدای چې د شر پر خوا وي،

**مفتي صاحب:** نه، بالکل، داسي نه ده،

**جاوید اختر:** دا تاسئ څرنګه خبري کوی؟ آیا هر ځای کي به د شرافت او خیر ثابتولو لپاره تا سو خامخا شر او بد ورسره مقایسه کوئ ترڅو دا ثابت کړی چې هغه شریف دی او دا شریر؟ یعني که شر نه وي، تاسو خیر نشی ثابتولای.

**مفتي صاحب:** که چیري یو ممتحن په یوه پارچه کې غلط او صحیح ډیر انتخابونه یو شاګرد ته ورکړي، که شاګرد د صحیح پر ځای غلط

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځواب انتخاب کړي، ممتحن نه ناکام کیږي بلکې شـــاگرد ناکام کیږي، بالکل همدا سي ده چې الله تعالی شر او بد د امتحان لپاره پیدا کړي دي، خو په دی سره هغه نه بد کیږي بلکې هغه څوک بد بلل کیږي څوک چې دغه بد اختیار کړي، چاړه جوړونکی بد نه بلل کیږي بلکې هغه څوک بد بلل کیږي څوک چې یې بد استعمالوي.

**جاوید اختر:** جنسي تیری څرنگه غلط استعمالیدی شي؟

**مفتي صـــاحب:** هر بد شـــی چې دنیا کې موجود دی، د هغه د بد استعمال څو طریقې دی چې یوه طریقه د انسان خپله آزاده اراده ده، اوس که یو څوک پر بل چا جنسيـ تیری وکړي، په دی کې د الله تعالی هیڅ قصـــور نشـــته بلکې د هغه کس د آزادي ارادې د غلط اســـتعمال نتیجه ده چې له دی وجه دته باید ســـزا ورکول شي، د همدې لپاره دوزخ جوړ شوی دی.

**جاوید اختر:** د خلگو اکثریت به دا ټاکي چې چیش صـــحیح دی او چیش غلط.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**مفتي صــاحب:** که اکثریت دا ووایې چې نازی جرمني سره چې کوم د خلګو اکثر یت وو، او هغوی د دولتي قتل عام پریکړه کړی وه د هغوی سره تاسو اتفاق کوئ چې هغوی صحیح وو؟

**جاوید اختر:** هغه وخت چې د ځمکي پر مخ کوم خلګ وو د هغوی اکثر یت ته اعتبار دی چې هغوی د نازی جرمنی دا عمل څرنګه ارزوی؟

**مفتي صاحب:** یعني که د ځمکی د مخ د اکثریت رایه معتبره ده، نه د معاشری؟ صحیح؟

**جاوید اختر:** هو.

**مفتي صــاحب:** د ځمکي د مخ اکثریت د الله تعالی د وجود قایل دي، تاسو ولي د الله تعالی د وجود نظریه نه منئ؟

## د دواړو لورو آخري خبري

### د مفتي صاحب د ټول بیان آخري خبري؟

زمــوږ د بــحــث مــوضـــوع دا ده، :**آیـا خـدای شـــتــه؟**

زه په دې موضــوع ډېر اکاډمیک چمتووالی سره راغلی وم. ما فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library


کاوه چې ګڼ شمېر دلایل به وړاندې کړم، خو د وخت کمښت او دا چې جاوید صاحب بیا بیا له موضوع وځېدل، نو اړ شوم لږه تفریح هم ورسره وکړم.

د «آیا خدای شته؟» په موضوع کې ما یوازې **یو دلیل** وړاندې کړ. دلایل ډېر دي، او قوي او پرېکنده دلایل دي. خو زما دا دلیل هغوی په هېڅ یوه پړاو کې نه دی منلی او نه یې رد کړی دی— نه په یوه پړاو کې، نه په بل کې. او نه به یې همدا اوس ستاسو د وروستي استدلال په وخت کې ځواب کړي.

**جاوید اختر:** کوم دلیل؟

**مفتی صاحب:** هغه دلیل دا دی :**د امکان دلیل**

**(Argument of Contingency) ، صاحب!**

**جاوید اختر:** یاره، ما دا خبره څو ځله درته کړې ده: د «کانټینجنسي» معنا څه ده؟
**مفتي صاحب:** اوس زه څنګه نور درته تشریح کړم؟ (خندا) په څو لا اسانه طریقو یې درته ووایم؟ زه پخپله نه پوهېږم نور څنګه تشریح کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**جاوید اختر:** تا سو کولی شئ خپله کانتېنجنسي په اردو کې ووايئ.
**کوربه مفتي صاحب ته:** خپله خبره بشپړه کړئ– ستا سو ورو ستي څلور دقيقې دي.

**مفتي صاحب:** دوهمه خبره دا ده چې: تاسو يو خو د دې دليل ځواب ورنه کړ، او بل دا چې تاسو د خدای د نه شتون لپاره هېڅ پرېکنده دليل وړاندې نه کړ.
تاسو يوازې د مذهب په اړه خبرې کوی، حال دا چې مذهب زموږ د نن موضوع نه و.
نن زموږ موضوع دا وه :**آيا خدای شته؟**

تاسو خبرې له مذهب نه تر داعش پورې يوړې. وروره، زموږ له هغوی سره څه تړاو دی؟
موږ هغوی غندو.
او د هغوی کارونه د خدای سره څه تړاو لري؟

که څوک غلط کار کوي– چا څوک وژلی، چا پر چا تېری کړی–نو سزا بايد ووينې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو تاسو د اخلاقو لپاره هيڅ قوي او منطقي بنسټ نه لری. تاسو وويل چې اکثريت به پريکړه کوي چې څه سم دي. ما وويل: نو بيا هټلر هم سم و؟
تاسو وويل: نه، د ټولې سيارې اکثريت به پريکړه کوي.

نو د ټولې نړۍ اکثريت د خدای پر شتون باور لري. تاسو وایاست دا مذهبي خبره ده.
يعنې ستاسو سره د **عيني اخلاقو (Objective Morality)** لپاره هيڅ قوي بنسټ نشته. که د عيني اخلاقو کوم بنسټ شته، نو هغه يوازې **خدای** دی.
خدای شته، خدای شته.
مننه!

## د جاوید اختر خبري:

وګورئ، ډېرې خبرې دي.

د نړۍ د هر مذهب له مخې د خدای تعريف دا دی چې هغه قادر دی، هر ځای موجود دی، عادل دی، مهربان دی، له انسان سره مينه لري او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو زه چې نړۍ ته ګورم، نو داسې کوم ستر ځواک نه وينم چې د انسان د کمزورۍ لپاره څه کوي، کمزوری ژغوري، مرسته کوي، ظالم شاته تمبوي. نه مې نن ليدلي، نه په تاريخ کې.

که خدای وي او دا هر څه ويني، نو بيا د هغه شتون او نه‌شتون يو شان دي. بله دا چې کله تاسو واياست کاينات محتاج دي (کنتينجنت دي)، نو سمدلاسه تسليمېږئ چې جوړوونکی به يې له دې نه لس زره ځله ډېر پېچلی وي، او پر هغه هېڅ اعتراض نه کوئ. واياست هغه له وخته پاک دی، له مخکې موجود و، وخت وروسته راغی. دا ټول منئ، بې له کوم دليل او بې له کوم ثبوت.

د مذهبونو د خدای پر باور تاريخ ته وګورئ، دا باورونه پرله‌پسې ناسم ثابت شوي دي. د ارسطو په وخت کې هم خلګ پر خدای دومره کلک باور درلود لکه نن، خو هغه خدايان اوس نشته. دا به هم نه پاتې کېږي.

دا وليکئ. ننبې يې لا اوس ښکاره شوې دي. ايا دا بحث سل کاله مخکې ممکن و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا ټولې خبرې یو پکیج دی.

داسې څوک نشته چې یوازې پر خدای باور ولري او بس. له هغه سره نور ډېر ملحقات راځي. دا باورونه ټل په ټولنه کې ستونزې جوړې کړې دي.

زه تاسو ته یو ساده وړاندیز کوم: په نړۍ کې لس مهم باورونه دي. تاسو یو منئ، نهه نه منئ. په هغو نهه کې تاسو ملحد یاست. یو مذهبي انسان هم ۹۰ سلنه ملحد دی، ځکه د نورو خدایانو باور نه کوي.

که تاسو باور پرېږدئ، نو لس سلنه چانس دی چې سم یاست او نوي سلنه چې غلط یاست. که تاسو ملحد شئ، پنځوس سلنه چانس دی چې سم یاست او پنځوس سلنه چې غلط یاست. تاسو څلوېښت سلنه ګټه کوئ که ملحد شئ.

دا یو زوړ فکر دی، دا ختمېږي. کېدای شي زما په ژوند کې نه، خو ختم به شي. دا اصطلاحات لکه «ماوراءالطبیعي» ډېر محترم نومونه دي، خو دا د هغو خلګو خبرې دي چې نه یې فزیک پېژانده او نه متیا. ډېره مننه!

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د دې بحث وروستی پړاو: د اورېدونکو پوښتنې

## اوله پوښتنه:

## ماریا شاکي پوښتنه کوي:

زه پر خدای باور لرم، خو هغه پوښـــتنې چې جاوېد صـــاحب راپورته کړې، ځواب غواړي. ولې په غزه کې ماشـــومان مري که خدای مهربان دی؟ او ولې ټول مســـلمان هېوادونه سره یو ځای هم هغوی نه شي ژغورلی؟

## ځواب: مفتي شمایل ندوی صاحب:

دلته دوه لیدلوري دي: ملحدانه او الهي، ماشـــومان په دواړو کې مري، خو زموږ لیدلوری دا دی چې تاوان به یې جبران کېږي. هغوی وايي هېڅ جبران نشته. خدای یوازې مهربان نه دی، بلکې حکیم او پوه هم دی. انســـان ته ازاد اختیار ورکړل شـــوی. لکه ډاکټر چې ماشـــوم ته ستنه وهي—ماشـــوم ته درد وي، خو موخه شـــفا ده. موږ یوازې یو پیکسل وینو، بشپړ انځور د خدای سره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## جاوید اختر:

تاســـو دا توجیه اسرائیلو ته ولېږئ، هغوی به ډېر خوشـــحاله شي. ماشـــومان ټوټه ټوټه کېږي، او تاســـو ورته انجکشـــن وایاســـت؟ دا ټېسټ دی؟ درې کلن ماشوم د بارودو په وسیله ټېسټېږي؟

خـــــدای نـــــه وژني، انســـــــان وژني. دا د انسان ظلم دی، نه د فطرت.

**دوهمه پوښتنه:**

**یو استاد پوښتنه کوي:**

که کاینات پخپله وروستی حقیقت وي او جوړوونکی همدا وي، نو بیا خالق ته اړتیا نشته.

**ځواب: مفتي صاحب:**

دا غیر منطقي ده چې یو شـــی هم په یو وخت کې موجود وي او هم نه وي. کاینات محتاج دي.

**درېیمه پوښتنه:**

**د شر مسئله بیا راځي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library


که خدای پوه او حکیم دی، نو ولې شر زغمي؟ که زه د غزې ظلم غندم، ایا د خدای د حکمت مخالفت نه کوم؟

**ځواب: مفتي صاحب:**

نه. ظلم د انسان د آزاد اختیار ناسم استعمال دی. خدای ظلم نه امر کوي. شر د ازموینې لپاره دی.

**څلورمه پوښتنه:**

### یو بل پوښتونکی:

ایا د علتونو بې‌پایه تسلسل منطقي تېروتنه ده؟

### ځواب (جاوید اختر):

زه دا تېروتنه نه ګڼم. ستونزه دا ده چې تا سو پوښتنې تر خدای پورې کوئ او هلته ودرېږئ. که خدای تل و، ولې کاینات تل نه وي؟

**پنځمه پوښتنه:**

**مذهبي خلګ اخترونه لري، ملحدان څه لري؟**

**ځواب (جاوید اختر):**

(c) ketabton.com: The Digital Library


جشـــنونه اصـــل کې مذهبي نه وو، موســـمي او کلتوري وو. مذهبونو خپل کړي. موږ ټول جشنونه لمانځو—عيد، ديوالي، هولي، کرسمس. دا زموږ کلتور دی، نه عقيده.

تم بعون الله

(c) ketabton.com: The Digital Library


الحمد لله! د الله تعالی په فضـــل سره مکمله مناظره د هندي ژبي ځخه پښـــتو ژبي ته وژباړل ســـول، الله تعالی دی قبول او مقبول وګرځوي او الله تعالی دي دا رسـاله زما په شـمول د هر لوسـتونکي د حسن خاتمې سبب وګرځوي. آمین

**۱۴۴۷/۷/۲ هـ ق**

**۱۴۰۴/۱۰/۱ هـ ش**

**۲۰۲۵/۱۲/۲۳ میلادی**

**ورځ: سې شنبه، دشپې ۱۲:۴۹ بجې، هرات ولایت - افغانستان**

**عمر السید عفی الله عنه.**



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**